# کوش KUSCH

## د فرنځیالبرابرون یا _ مساوات

$$y - y' + y^2 y''^4 = 0$$

Differentialgleichungen

Ketabton.com

ژباړن:

ډاکټر ماخان (میری) شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال ژوند ته لنډه کتنه



ماخان (په اولني نوم مېرې) د اروابنادي پښتو او اروابناد نورالرحمان زوی، په ۱۵/۹/۱۹۴۶م کال د شینوارو د هسکې مېنې ولسوالۍ کې زېږېدلی. (د زېږېدو نېټه یې د ۱۳۲۴ هـ ل کال څخه یو یا دوه کاله دمخه ده).

د هسکې مېنې د درې کاله کلیوالي ښوونځي وروسته، چې د لومړنیو زده کوونکو څخه وو. له ۱۹۵۴ څخه تر ۱۹۶۵ پورې رحمان بابا لېسه، د ۱۹۶۶م کال سپتمبر کې دیوه بورس له لارې اطریش ته لاړ او هلته په پوره ستونزو د شمېر پوهنې په ډاکټرۍ بریالی شو.

د ۱۹۸۷ م کال د نومبر تر د ۱۹۸۸ فبروري تر اخره د افغانستان د باندنیو چارو کې مامور وو. دی د ۱۹۸۸م کال د فبرورۍ له ۲۹ تر ۱۹۹۲ م کال د اپریل تر نیمایي وراخوا په بن (المان) کې د افغانستان جمهوریت سفارت شارژدافیر وو او د ۱۹۹۲ یوني څخه راپه دېخوا په المان کې نور هم د پردېسۍ شپې او ورځې تېروي.

ماخان شینواری د مېرمن ښاپېرۍ سره له ۱۹۷۲م کال راپه دې له لرې واده (د واده خبر ورته اطریش ته راغی) دی په نهم ټولګي کې یې کوژده ورته کړې وه. دوی ته لوی څښتن دوه بچیان وبخښل، ځانګه او اباسین، چې د ۱۹۷۹کال د مۍ په شلم په اطریش کې زېږېدلي.

**Verein zur Fördrung der Afghanischen Kultur e. V. Köln, Germany**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱ . دیفرنځیالبرابرون یا دیفرنځیالمساوات

تراوسه مو معلوم الجبري او ترانسځندنت مساواتو نامعلومی لوي تر يوې برخی د توپيري پوتنځونو سره لکه $x , y\ z^2 , a^3$ او داسی نور ، لرودي.
که د مساواتو دا نامعلومی یا ناپیژندلی لویي فنکشنونه او د هغی رابیلدنی یا دفرنځیالویشنه یامشتقونه وي، نو دلته د يوه دیفرنځیالمساوات ځخه غږيدنه ده یا خبرې دي. د دې مساوات اوبی یاحل ستونځې لري، په ډیرو حالتونو کې حتی شمیرنیز ناممکن دی.
د دې وړې برخې په دننه کې کیدی شي ، چې یواځې یوه پیلونه ورکړل شي، د یوځو،په تخنیك کې، دمهمو كاروونو یا استعمال سره.
یادونه: دلته ځه نومونه چی راځي د هغو سره باید لوستونکی بلد وي. او که چیري داسی نه وه، نو دا تر زیاته حده ځما د مخه تیرو کتابونو کی راوړل شوي، که هغه هندسي کلیمي وي اوکه شمیرپوهنيزې.که پوه شوم، چی کومی کلیمي ځما په تیرو کتابونوکی روښانه نه دې تعریف شوي، وبه هڅیږم، چی داکار دلته روښانه کړم.
ګران لوستونکی به په دې پوهیږي، چی کوم شیان د ژباړونکی دي،که په روښانه توګه می ګوته لك نه کړل.

## ۱ . ۱ بنسټکلیمی

### ۱ . ۱ . ۱ تعریفونه ( پیژندنی )

تراوسه پورې : لاندې مساوات توپیر شوي دي.
ټاکنمساوات:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– الجبري ریشنل مساوات. $y = 2x^2 + 2x + 5x - 7 = x^2 - 3$

– الجبري ایریشنل مساوات. $\sqrt{3x^2 - 1} = x^2$

– ترانسځندنت مساوات. $y = \sin x ; y = e^{2x+1} = 2x$

فنکشنمساوات

هر $x \in D(f)$ په یواځنی یو $y \in R$ تنظیمیږي.

$$y = 2x^2 + 5x - 7 \quad \Rightarrow y = f(x) \Rightarrow f = < f \to f(x) >$$

$$y + 2x = y' . x^2 - y'' \quad \Rightarrow f = < x \to f(x) , f'(x), f''(x)>$$

$$\Rightarrow y = f<x,y',y''>$$

دفرنځیالمساوات، په کومو کی، چی د بلواکو اوښتوني y یواځی خپلواکی اوښتونی x اود هغه رابیلیدنی لکه

$$dy / dx = y' ; d^2 y / dx^2 = y'',.... , \qquad |$$

رامنځ ته کیږي، بلد یا عادي دیفرنځیالمساوات بلل کیږي.

د دیفرنځیالمساوات بېلیزه بڼه :

- $y = 3y' + 2x \cdot y'' + 4$
- $y'^2 + x \cdot y^2 = 4$
- $y''' + y'' + y' = e^x$
- $x \cdot y' = y'' \cdot y$
- $x \cdot y + x \cdot y' + x \cdot y'' + x \cdot y''' = 0$

که د دیفرنځیالمساوات ناپیژندونکی د ډیرو اوښتونکو فنکشنونه وي، نو د پارشل – یا ټوټه دیفرنځیال مساواتوڅخه غږیږو.

$$x^2 - \frac{\partial y}{\partial x} - 3 \cdot \frac{\partial^2 y}{\partial z^2} = y$$

د دې ټولیزه بڼه یا فورم

$$0 = f(x; y; z; \frac{\partial y}{\partial x}; \frac{\partial y}{\partial z}; \frac{\partial^2 y}{\partial x^2}; ....;-)$$

د n,....,1.,2 ( یعنی، لمړي، دوم، ... او n–ام ) نظم دیفر– نځیالمساواتو ترمنځ توپیر کوو

د ۱ –ام نظم دیفرنځیامساو $4y - dy / dx + y^2 = 0$

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. – ام نظم د.م $3x^2 + y^2 = d^2y / dx^2 = y''$

. د ۳ –ام نظم د.م $y''' - 3y = y'' + y'$

دلته په دیفرنځیالمساوات کې هغه لوړ دیفرنځیالکوځینت یا لوړه رابیلیدنه یا دیفرنځیالویش د دیفرنځیالمساوات نظم ورکوي.

د دفیرنځیالمساوات یو بل د توپیرولویا فرقکولو امکانات په درجه یا ګراد Grad کې ورکړ شوي دي.د دفیرنځیالمساوات ګراد د دیفرنځیالمساوات د زیاتوونو له لارې ټاکل شوی دی، په کوم کې چې د بلواکو اوښتونکو یا واریابلو د ځکیو یا لوړیو یا اکسپوننتونو او د دیفرنځیالویش هغه زیاتون چې د ټولو لوي وي.

۱ . درجه $y''' - 3x^2 + y = 0$

۲. . درجه $x^4 y' . y''^2 y'' + y - x^2 = 0$

۳ . درجه $y . y''^3 + y'' . x^8 = y$

۴ . درجه $y - y^2 y''^4 - y' = 0$

بلد دفرنځیالمساوات

د ۱ . نظم او ۳ . درجې $4x^5y^2 + 2y . y'^3 . \cos x - 5y + 7 = 0$

بلد یا ساده (عادي) دفرنځیالمساوات

۲ . نظم او ۱ . درجه $y . y'' + 4x . y' - y = 0$

## ۱ . ۱ . ۲ د دیفرنځیالمساواتو اوبیونی یا حلونه

د دفرنځیالمساوات اوبیونه یو فنکشن دی او زیات وخت د دفرنځیالمساوات اینتیګرال هم بلل کیږي، ځکه، چې په بنسټیزه توګه رابیلیدنې د اینتیګرال له لارې لاس ته راځي د دیفرنځیال مساوات د اوبیو یا حلونولاندې په مساواتو کې منځ ته راغلو، د دفیرنځیالونو او دیفرنځیالکوشنتونو د له منځه وړل دي، دا په دې مانا چې د ورکړشوو رابیلیدنو ځخه باید په هغه اړه فنکشن مساوات راپیدا کړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلگه: دیفرنخیالمساوات ; $x/2 - y' = x$

$dy / dx = y' = - x / 2$

$dy = -(x / 2).dx$

د رابیلیدنو د له منځورنه په بنستیزه توګه د اینتګرال له لارې پیښیږي یا صورت نیسی. د دیفرنخیالمساواتو اوبی یا حل له امله د هغه اینتګرال او یا هم د هغه بنستمساوات بولو.

$\int dy = - (1 / 2) \int x.dx$

اوبی ( حل ) $y = -(1 / 4) x^2 + C , C \in R$

د فنکشنمساوات $y = (x)$ څخه د اوبیفنکشن لاس ته راځي

$f = < x \longrightarrow -(1/4) x^2 + c >$

یادونه :داسی پورته مات نوکان >,< دې بیا لږ لوي ولیکل شي، ځه یی په بل ډول امکانات نه لرم.

ازمایښت:

که د اوبیوني فنکشن $y = -(1/4) x^2 + c$ څخه لمړی رابیلیدنه جوړه شي او د $y' = - x/2$ لپاره ترم د ازمایښت لپاره په سر- یا پیل دفرنخیالمساوات کی کینښول شي، نو دا به د فنکشن د دفرنخیالمساوات د ټولو توکو لپاره یو کټمټ یا ایدنتیک مساوات شي

$$\frac{x}{2} - y' = x \;\blacktriangleright\; y = -\frac{1}{4}x^2 + c$$

$$\Rightarrow y' = -\frac{1}{4} \cdot 2x$$

$$= -\frac{x}{2}$$

$$\Rightarrow \frac{x}{2} - \left(-\frac{x}{2}\right) = x$$

$$x = x$$

(دا یی په بل ډول لیکندود ) دیفرنخیالمساوات اوبی

$y = - (1 / 4)x^2 + C$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ازمايښت لپاره نتيجه بيرته ديفرنځياليږي يا رابيليدنه نيول کيږي. دا نتيجه د دفيرنځيالمساوات سره سرخوري.

$$dy / dx = - x / 2$$

ګورو، چې بيرته په دې توګه ديفرنځيالمساوات لاس ته راغی.

بيلګه: د ديفرنځيالمساوات

$$2x + dy / dx = 0$$

اوبی يا حل سره. لکهٔ څنګه په ټولو اينتيګرالولو کی يوه ثابت C رامنځ ته کيږي.

$$y = - x^2 + C$$

د دفرنځيالمساوات اوبيونی يا حلونه کيدی شي، چې پهٔ درې ډلو وويشل شي.

## ۱ – ټوليز اوبی

د دفرنځيالمساوات اوبی يا حل کی ، لکه په هر اينتيګريشن کی يوه اينتيګريشن ثابته c رامنځ ته کيږي.

که د ديفرنځيالمساوات په اوبی کی ثابته نزدې نه ټاکل کيږي، نو لاس ته راوړی حل د دې دفيرنځيال مساوات ټوليز اوبی او يا د دې ديفرنځيالمساوات ټوليز اينتګرال بلل کيږي.

بيلګه :

دفرنځيالمساوات $y' = 1 / 2$

$$\Rightarrow \quad y = (1 / 2) \quad dx$$
$$= (1 / 2) x + c$$

ټوليز دفرنځيالمساوات $f = \langle x \to (½)x + c \mid c \in R \rangle$

د يوه ديفنځيالمساوات ټوليز حل د کړو د کودې( د هغو کړو ډله، چې يو له بل سره غبرګی څغلي ) په څير په ګراف کيانخوريدلی شي .

دلته ناپايډيرې اوبيونی ممکن دي، څکه چې ثابته هر په خوښه ارزښت نيولي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




ځیره

## ۲ – پارتیکیولر–یا ځانګړي اوبیونه partikuläre Lösung

یا برخه ئیز– یا د یوې یوې برخې اوبیونه

که د ورکړشوي دیفرنځیال مساوات لپاره نور ورزیات ټاکلي شرایط ورکړ شوي وي، نو کیدی شي، چې د اینتګریشن ثابته C وشمیرل شي.

بیلګه:

دیفرنځالمساوات $y' = 1/2$

ټولیزمساواتفنکشن $\Rightarrow f = < x \longrightarrow (½)x + c,\ c \in R>$

ټولیز اوبی $y = (1/2)x + c\ ,\ c \in R$

که دc د شمیرلو لپاره نور ورزیات شرطونه $x_1 = 1$ ،$y_1 = 2$ وي

بدلون یا اړونه $y_1 = (1/2)x_1 + C$

ارزښت ځاي په ځاي کړی $C = y - (1/2)x$

$C = 2 - (1/2).1$

$\Rightarrow C = 1,5$

ارښت کیږدی

پارتیکیولار اوبی $y_1 = (1/2)x_1 + 1,5$

$\Rightarrow 2 = (½).1 + c \Rightarrow c = 1,5$

له دې د دیفرنځیالمساواتو پارتیکولاراوبی لاس ته راځي.

د $c = 1,5$ سره له ټولیز اوبیفنکشن f څخه ټوټه اوبي–فنکشن $f_1$ لاس ته راځي.

ټوټه اوبیفنکشن $f_1 = < x \longrightarrow (\frac{1}{2})x + 1,5 >$

د پارتیکولار اوبي په ګراف کی د کرښو د کودي څخه یوه ټاکلی کرښه بنایي

د $c = 1,5$ حالت لپاره.




په تخنیکي پرابلمونوکی زیات وخت پارتیکولار اوبیونو یا حلونو ته اړتیا پیښیږي.

## ۳ – زینګولار اوبیونیsinguläre Lösungen

دا لاندي دیفرنځیالمساوات دي ورکړ شوي وي

$$y^2 + y'^2 = 1$$

دا هلته پوره کیدونکی دی ،که ونیول شي

$$y = \sin(x + C)$$

دا اوبیونی د الجبري شمیرنی له لاري لاس ته نه شي راتللی

بیلګه : د ډیفرنځیال مساوات

$y^2 + y'^2 = 1$ ▶ *Differentialgleichung*

$f = \langle x \mapsto \sin(x + c) | c \in \mathbb{R} \rangle$ ▶ *angenommene allgemeine Lösungsfunktion*

$\Rightarrow y = \sin(x + c)$

منل شوی تولیز اوبیفنکشن

ازمایښت

$$y = \sin(x + c) \Rightarrow y^2 = \sin^2(x + c)$$
$$\Rightarrow y' = \cos(x + c) \Rightarrow y'^2 = \cos^2(x + c)$$
$$y^2 + y'^2 = 1$$
$$\Rightarrow \sin^2(x + c) + \cos^2(x + c) = 1$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازمایښت د نیول شوي اوبي رتینښتینوالی تصدیقوي

دا ځنی دفرنځیالمساوت د دې تر ځنګ نورې اوبیونی هم لري، کومی چی په ریښتونی دیفرنځیالمساوات پوره کوي، مګر له دې پیدا ټولیز اوبی یا حل ځځه رابیلیدوړ نه دی.
د ټولیزې اوبیونی $y = \sin(x + c)$ تر ځنګ دفرنځیالمساوات د فنکشنونو
$f_1 = <x \longrightarrow 1>$ او $f_2 = <x \longrightarrow -1>$

سره هم پوره کیږي.
دا اوبیونی یا حلونه زینګولار بلل کیږي. دا د یوه ټولیز حل د کږوکرښو د کودو هندسي پوښ انځوروي.
د دواړو زینګولار حلونو دا لاندې هندسي انځورونه د دوه کرښو په څیر ښايي، چی د x —محور سره غبرګی ځغلي. کومی چی ټولیز یا عمومي اوبی یا حل $\sin(x + C)$ پوښوي یا پټوي.

$$y^2 + y'^2 = 1$$
$$y_1 = 1;\ y_1' = 0 \quad \Rightarrow \quad 1^2 + (0)^2 = 1$$
$$y_2 = -1;\ y_2' = 0 \Rightarrow (-1)^2 + (0)^2 = 1$$
$$\Rightarrow \left.\begin{array}{l} f_1 = \langle x \mapsto 1 \rangle \\ f_2 = \langle x \mapsto -1 \rangle \end{array}\right\} \textit{singuläre Lösungen}$$

زینګولار اوبیونې
یا حلونه




د دیفرنځیالمساواتو زینګولار حلونه د کم اهمیت دی یا د کم غوروالی دي. د دې کتاب په چوکاټ کې به د دې په پیلونو یا کارونو تیریدنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اوبیونی متودونه

د دیفرنځیالمساوات اوبیونی اصلاً د اینتیګرالشمیرنی له لارې صورت نیسي.
د لاندې بیلګو سره دې د ممکنه حلونو لمړی تصور یا خیال رامنځ ته شي.
بیلګی : د لاندې دیفرنځیالمساواتو ټولیز اوبیونی (حلونه) پیدا کړی!

1. $y' = 4x$

بڼه بدلون : $dy / dx = 4x$

یواځي د لمړي نظم دیفرنځیالکوځینت یا دیفرنځیالویش مخ ته پروت دی، نو د $dy$ پسی برابریږي یا ترتیبیږي او اینتیګرالیږي.

اینتیګرالونه $dy = 4x\,dx$.

$$\int dy = 4\int x.dx$$

$$y = 2x^2 + c,\ c \in R$$

$$\Rightarrow \quad f = \langle x \longrightarrow 2x^2 + c \mid c \in R \rangle$$

2. که ډیر اینتیګرالونه لاس ته راځي، نو د اینتیګرالثابتی $c_1$ او $c_2$ و یوې ثابتی $c$ ته سره رایوځای کیږي.

$$y' = 8x^3 - 2x^2$$

$$y = 8 \cdot \int x^3\,dx - 2 \cdot \int x^2\,dx$$

$$= 2x^4 + c_1 - \frac{2}{3}x^3 + c_2$$

$$= 2x^4 - \frac{2}{3}x^3 + c;\ c \in \mathbb{R}$$

$$\Rightarrow f = \left\langle x \mapsto 2x^4 - \frac{2}{3}x^3 + c \mid c \in \mathbb{R} \right\rangle$$

۳ . د یوه بلد ۲ . نظم دفرنځیالمساوت لپاره د دوه واره اینتیګرالولو له لارې اوبیونه پیدا کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$y'' = x^2 \Rightarrow (y')' = x^2$$

$$y' = \int x^2 \, dx$$

$$= \frac{x^3}{3} + c_1 \, ; \, c_1 \in \mathbb{R}$$

$$y = \frac{1}{3} \int x^3 \, dx + c_1 \cdot \int dx$$

$$= \frac{x^4}{12} + c_1 x + c_2 \, ; \, c_2 \in \mathbb{R}$$

$$\Rightarrow f = \left\langle x \mapsto \frac{1}{12} x^4 + c_1 x + c_2 \right\rangle$$

په ټوټه اینتیګرالونه کی هم دوه اینتیګرالثابتي پیداکیږي، کومی چی د ټوټه اوبی سره د ورکړشوو شرایطو له مخی باید وټاکل شي

۴ . په دفرنځیالمساوات کی $y' = dy / dx$ اینسوول کیږي او له $dx$ سره ځلیږي

بیا دا بدلونښه په دواړو خواوو اینتیګرالیږي.

وریسی دواړه د اینتیګرالثابتی $c_1$ او $c_2$ و $c = 2(c_2 - c_1)$ ته سره را یوځای کیږي. ( دي ته دې په شمیر پوهنیزه برخه کی پاملرنه وشي، ما د تخنیکي ستونځو له امل بل ډول نه شوې لیکلی )

$$y \cdot y' = \cos x$$

$$y \cdot \frac{dy}{dx} = \cos x$$

$$y \cdot dy = \cos x \cdot dx$$

$$\int y \, dy = \int \cos x \, dx$$

$$\frac{y^2}{2} + c_1 = \sin x + c_2$$

$$y^2 = 2 \cdot \sin x + 2(c_2 - c_1) \blacktriangleright 2(c_2 - c_1) = c$$

$$y = \pm \sqrt{2 \cdot \sin x + c} \, ; \, c \in \mathbb{R}$$

$$\Rightarrow f = \langle x \mapsto \sqrt{2 \cdot \sin x + c} \mid c \in \mathbb{R} \rangle$$

۵ . اینسول کیږي $y' = dy / dx$ او دفرنځیالمساوات د $dx$ سره ځلیږي.

وریسی د دفرنځیالمساوات دواړه خواوې اینتیګرالیږي او بیا ثابتی $c_1$ , $c_2$

(c) ketabton.com: The Digital Library

او $c_3$ و يوې ثابتې c ته سره راټوليږي يا رايوځاي کيږي.
که دواړو لورو ته وريسی مربع تکميلونه ۱ ور زياته شي نو y شميرل کيدی شي، او لاس ته راغلی f ټوليز اوبی دی.

$$y' \cdot y = y' + x$$
$$\frac{dy}{dx} \cdot y = \frac{dy}{dx} + x$$
$$y \cdot dy = dy + x \cdot dx$$
$$\int y\,dy = \int dy + \int x\,dx$$
$$\frac{y^2}{2} + c_1 = y + c_2 + \frac{x^2}{2} + c_3$$
$$y^2 - 2y = x^2 + 2 \cdot (c_2 + c_3 - c_1)$$
$$\blacktriangleright\ 2 \cdot (c_2 + c_3 - c_1) = c$$
$$y^2 - 2y = x^2 + c$$
$$y^2 - 2y + 1 = x^2 + c + 1$$
$$(y-1)^2 = x^2 + c + 1$$
$$y - 1 = \sqrt{x^2 + c + 1}$$
$$y = \sqrt{x^2 + c + 1} + 1;\ c \in \mathbb{R}$$
$$\Rightarrow f = \langle x \mapsto \sqrt{x^2 + c + 1} + 1 \mid c \in \mathbb{R} \rangle$$

## په ياد ولری

۱ – ديفرنشيالمساوات په ټوليزه توګه ټوليز، پارتيکيولار او په ورکړ شوي حالت کي زينګولار اوبيونی يا حلونه لري.

۲ – ديفرنشيالمساوات په مناسب يا ورته شميرنيز کارونی له لارې په زياتون– حالتونو کی د اينتيګرال له لارې اوبي کيږي.

۳ – زيات وخت بايد چي اوبي ونيول شي او دا اوبی بيا د هغه د رينښتينوالی لپاره و ازمايل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۱ . ۱ ته تمرینونه

لاندي ساده دفرنځیالمساوت اوبی یا حل کړی

1 . $y'' = x \cdot e^x$  2 . $y'' - x = 0$  3 . $2y' - \cos x = 0$
4 . $x \cdot y'' = 3y'$  5 . $y \cdot \ln x = x \cdot y'$  6 . $y' \cdot y + y' + x = 0$
7 . $y' - x^2 = 3e^x$  8 . $\sin x - e^x = y'$  9 . $y' \cdot y = x + 1$
10 . $y' \cdot y^2 = y' - x^2$  11 . $dy / dx - 3x = e^x$
12 . $y' - x^2 = x^2 - y'$  13 . $dy / dx + \cos x = 1$
14 . $y^3 \cdot y' = \sqrt{x^2 - 1}$  15 . $x^2 \cdot y' = x^4 - x^2$  16 . $e^x \cdot y' = y$
17 . $y'' = 7x^3$  18 . $d^2 y / dx^2 = \sin x$
19 . $3x - y'' = a$  20 . $y'' = y'$  21 . $y'' = x \cdot \cos x$

## ۱ . ۲ د لومړي نظم دیفرنځیالمساواتونه

د لمړي نظم دیفرنځیالمساواتونه داسی پیژندل کیږي، چی یواځی لمړی رابیلیدني $y'$ او یا د $y'$ په توانونه لکه $y'^2 , y'^3$ رامنځ ته کیږي.
د دي ترځنګ کیدی شي $x$ او $y$ همداسی د دوي توان رامنځ ته شي بیلګي :

$$y' + x^2 = 3y^2 + 3y$$
$$y \cdot y' = y'^2 - x^2 + x - 1$$

تولیز : $y' = f(x,y)$

د $y' , y$ او $x$ موجودیت او لویوالی تنظیمونی پسی د دفیرنځیالمساواتو مختلف ډولونه توپیریدلی شي. د لته به د دي مهمو باندي لنډي خبرې وشي.

### ۱ . ۲ . ۱ دیفرنځیالمساوات د بیلوشوو اووښتونو سره

دیفرنځیالمساواتو د بیلو یا جودا اووښتونو یا واریابلو سره، هغه مساوات په نخښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي، په کومکي چې ممکن وي،چې لويي $dy$ , $g(y)$ په همدې توګه $f(x)$ , $dx$ هر
يو يې په يوه لور بېل يا ځانلۀ کړو.
د دې اړونې سره کېدی، چې مساوات په دواړو خواوو اينګرال شي.
بېلګه؛

$$y' \cdot y^4 = x^2 \cdot y$$

$$\frac{dy}{dx} \cdot y^4 \cdot \frac{1}{y} = x^2$$

$$dy \cdot y^3 = x^2 \cdot dx \blacktriangleright y^3 = g(y);\ x^2 = f(x)$$

$$\int y^3\,dy = \int x^2\,dx$$

۱ . دفرنځيالمساوات د $y^2$ او $dx$ سره ځليږي. بيا کېدی شي ، چې د مساوات
دواړه خواوې اينتيګرال شي د $y^3$ پسې اوبيونی له امله ثابتی $3.(c_2 - c_1)$ و
ثابتی $c$ ته راغونډيږي( دا پورته ټول په لاندې بېلګه کې روښانيږي ).
دلته $f$ غوښتونکی اوبيفنکشن يا حلفنکشن دی.
بېلګه:

$$\frac{dy}{dx} = \frac{x^2}{y^2} \blacktriangleright x^2 = f(x);\ y^2 = g(y)$$

$$y^2 \cdot dy = x^2 \cdot dx$$

$$\int y^2\,dy = \int x^2\,dx$$

$$\frac{y^3}{3} + c_1 = \frac{x^3}{3} + c_2$$

$$y^3 = x^3 + 3(c_2 - c_1) \blacktriangleright 3(c_2 - c_1) = c$$

$$y^3 = x^3 + c$$

$$y = \sqrt[3]{x^3 + c}$$

$$\Rightarrow f = \langle x \mapsto \sqrt[3]{x^3 + c} \mid c \in \mathbb{R} \rangle$$

۲ . د دې لپاره ، چې د $g(x) = y - 4$ د $dy$ سره او $x$ د $f(x) = x^2$ سره
رايوځايونه لاس ته راوړای شو. نو دفرنځيالمساوات د $dx$ سره ځليږي او $x^2$
سره ويشل کيږي. *

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریسی له دې سره dy او g(y) همدا ډول dx او f(x) هر یو په یوه خوا ځانله کیږي. د کوم سره چې dx او dy باید په مات باندې کې پراته یا ځاي وي. **
د مساوات دواړه خواوې ایتیګرال کیږي. د اینتیګرالثابتي $c_1$ او $c_2$ و $c_3$ ته راغونډیږي.
دا راپیداشوی فنکشن د y په لور اوبی کیږي. د $e^C$ لپاره c اینښول کیږي.***
اوf د دفرنځیالمساوات ټولیز اوبی دی****

یا دونهٔ : لاندې د شمیرنی په برخه کی په * پسی* ... ،او** پسي ***...
په **** پسي **** راځي.

$$x^2 \cdot \frac{dy}{dx} - y + 4 = 0$$ *

$$x^2 \cdot dy - y \cdot dx + 4 \cdot dx = 0$$

$$dy - \frac{y \cdot dx}{x^2} + \frac{4 \cdot dx}{x^2} = 0$$

$$dy - \frac{dx}{x^2}(y-4) = 0$$

$$\frac{dy}{y-4} - \frac{dx}{x^2} = 0$$

$$\frac{dy}{y-4} = \frac{dx}{x^2}$$ **

$$\int \frac{dy}{y-4} = \int \frac{dx}{x^2}$$

$$\Rightarrow \ln|y-4| + c_1 = -\frac{1}{x} + c_2 \quad \blacktriangleright c_2 - c_1 = c_3$$ ***

$$y - 4 = e^{c_3 - \frac{1}{x}}$$

$$y = e^{c_3} \cdot e^{-\frac{1}{x}} + 4 \quad \blacktriangleright e^{c_3} = c$$

$$y = c \cdot e^{-\frac{1}{x}} + 4$$

$$\Rightarrow f = \langle x \cdot - c \cdot e^{-\frac{1}{x}} + 4 | c \in \mathbb{R} \rangle$$ ****

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیفرنځیالمساوات د جلا یا بیلو شوواووښتونو سره، ځان په دې ګروپونو ټوټه کوي

۱ – د لاندې فورم مساوات

$$y' = f(x)$$

دا فورم همغه ورسره بلد د تمرینورکونې وظیفه ورکوي، لکه ځنګه، چې په اینتیګرالشمیرنه کې.

بیلګه :

$$y' = x^2$$

بدلونه $dy / dx = x^2$

اینتیګرالونه $dy = x^2\, dx$

$$y = \int x^2\, dx$$

تولیز اوبې $y = (x^3 / 3) + C$

دلته f ټولیز حل دی. $\Rightarrow f = \langle x \to (x^3/3) + c \mid c \in R \rangle$

۲ – د لاندې فورم مساوات $y' = g(y)$

اووښتونې dy او $g(y) = 3y^2 + 1$ په همدې توګه dx هر د مساوات په یوه خوا ځانله کیږي.

د مساوات دواړه خواوې اینتیګرالیږي، د کوم سره چې د مخامخ بنې $\int \frac{dz}{z^2 + 1}$ اینتیګرال پخوا اوبې شویدی..

بیلګه ( یادونه : دا بیلګه لکه چې ناریښتیا اوبې وې، پام ورته وکړی، ؟ ؟ . )

$$y' = 3y^2 + 1$$

$$\frac{dy}{dx} = 3y^2 + 1$$

$$\frac{dy}{3y^2 + 1} = dx$$

$$\int \frac{dy}{3y^2 + 1} = \int dx$$

کیږ لور ته ځانله کیږي په داسې توګه، چې د اینتیګریشنشابته $\ln \left| \frac{3y + \sqrt{3}}{3y - \sqrt{3}} \right|$

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنې خوا ته راوړل شي او مساوات د $2\sqrt{3}$ سره ځل شي،

$$\frac{1}{2\cdot\sqrt{3}}\ln\left|\frac{3y+\sqrt{3}}{3y-\sqrt{3}}\right|+c_1=x+c_2$$

$$\ln\left|\frac{3y+\sqrt{3}}{3y-\sqrt{3}}\right|=2\cdot\sqrt{3}\cdot x+2\sqrt{3}(c_2-c_1)$$

د لوګاریتم د اوبیونی سره په بنې لور اکسپونئنشلفنکشن لاس ته راځي، کوم چې په یوه ځل توپه کیدی شي.

د سادوني لپاره تاکل کیږي

$$c=e^{2\sqrt{3}(c_2-c_1)}$$

بیا د $(3y-\sqrt{3})$ سره ځل کیږي او بالاخره مساوات د y سره کیڼ لور ته راوړل کیږي همداسی $\sqrt{3}$ و بنې خوا ته.

$$\frac{3y+\sqrt{3}}{3y-\sqrt{3}}=e^{2\sqrt{3}\cdot x+2\sqrt{3}(c_2-c_1)}$$

$$\frac{3y+\sqrt{3}}{3y-\sqrt{3}}=e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot e^{2\sqrt{3}(c_2-c_1)} \blacktriangleright e^{2\sqrt{3}(c_2-c_1)}=c$$

$$\frac{3y+\sqrt{3}}{3y-\sqrt{3}}=e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c$$

$$3y+\sqrt{3}=(3y-\sqrt{3})\cdot e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c$$

$$3y+\sqrt{3}=3y\cdot e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c-\sqrt{3}\cdot e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c$$

د y نوکوتلو وروسته د دفرنځیالمساوات د تولیز اوبیونی فنکشنمساوات لاس ته راځي

$$3y-3y\cdot e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c=-\sqrt{3}\cdot e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c-\sqrt{3}$$

$$3y(1-e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c)=-\sqrt{3}(e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c+1)$$

$$y=\frac{\sqrt{3}}{3}\cdot\frac{e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c+1}{e^{2\sqrt{3}\cdot x}\cdot c-1};\ c\in\mathbb{R}$$

۳ . د $y'=f(x)\cdot g(y)$ بنې مساوات

د فرنځیالمساوات د بیلیدنی وروسته اینتیګرالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د y پسی اوبیونی وروسته ږدو

$$e^{c_2 - c_1} = c$$

وریسی بیا f تولیز یا عمومي اوبی دی

بیلګه :

$$y' = 4x^2 \cdot y$$

$$\frac{dy}{y} = 4x^2 \cdot dx$$

$$\int \frac{dy}{y} = 4 \int x^2 dx$$

$$\ln|y| + c_1 = \frac{4}{3}x^3 + c_2$$

$$y = e^{\frac{4}{3}x^3 + (c_2 - c_1)}$$

$$y = e^{\frac{4}{3}x^3} \cdot e^{c_2 - c_1} \blacktriangleright e^{c_2 - c_1} = c$$

$$y = c \cdot e^{\frac{4}{3}x^3}$$

$$\Rightarrow f = \langle x \mapsto c \cdot e^{\frac{4}{3}x^3} | c \in \mathbb{R} \rangle$$

۴ – د $y' = f(x) / g(y)$ بڼي یا فورم مساوات اوونښتونی y , dy او dx , x دوه لوریز خانله کیږي.

$$y' = x / y$$
$$dy / dx = x / y$$
$$\Rightarrow \quad y\,dy = x\,dx$$

بیا د مساواتو داوړه خواوې اینتیګرالیږي او د y پسی اوبی کیږي.

$$\int y\,dy = \int x\,dx$$
$$(1/2)\,y^2 + c_1 = (1/2)\,x^2 + c_2$$

ږدو

$$2(c_2 - c_1) = c$$

$$y^2 = x^2 + c \quad \Rightarrow \quad y = \sqrt{x^2 + c}$$

دافنکشن f د دفرنخیالمساوات تولیز اوبی یا حل دی

$$\Rightarrow \quad f = \langle x \longrightarrow x^2 + c \mid c \in R \rangle$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ – د لاندي فورم مساوات

$$y' = g(y) / f(x)$$

اووبښتونی y , dy او x , dx په دواړو خواوو ځانله کیږي . او په اخر کی دو خواوي اینتیګرالیږي او په y پسی اوبی کیږي.

هغه لاس ته راوړي اینتیکریشنشابتی ږدو: $c_2 - c_1 = \ln|c|$

$$y' = y / x \;;\quad dy / dx = y / x$$

$$\int dy / y = \int dx / x \Rightarrow \int \frac{dy}{y} = \int \frac{dx}{x}$$

$$\ln|y| + c_1 = \ln|x| + c_2$$
$$\ln|y| = \ln|x| + c_2 - c_1 \quad , c_2 - c_1 = \ln|c|$$
$$\ln|y| = \ln|x| + \ln|c|$$
$$\ln|y| = \ln|x.c|$$
$$y = x.c$$
$$\Rightarrow \quad f = \langle x \longrightarrow x.c \mid c \in R \rangle$$

دا لاس ته راغلی f تولیز حل دی

بیلګی

1. $y' - 3x = -4x^2$

$$dy / dx = 4x^2 + 3x$$

$$y = 4. \int x^2\, dx + 3. \int x\, dx$$

$$y = (4/3)\, x^3 + c_1 + (3/2)\, x^2 + c_2$$

ږدو $c_2 + c_1 = c$

$$\Rightarrow \quad f = \langle x \longrightarrow (4/3)\, x^3 + (3/2)x^2 + c \rangle$$

دا f د مساوات تولیزه ابیونه ده

۲ . $\sin x - y' = \cos x + y'$

$$\sin x - dy / dx = \cos x + dy / dx$$
$$2dy = \sin x \,.\, dx - \cos x \,.\, dx$$

$$y = (1/2) \int \sin x\, dx - (1/2) \int \cos x\, dx$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$y = -(1/2)\cos x + c_1 - (1/29\sin x + c_2$$

پردو: $c_1 + c_2 = c$

$$\Rightarrow \quad f = < x \longrightarrow -(1/2)\cos x - (1/2)\sin x + c >$$

3 . $\quad 2.y' = 2y^2 + 8y - 2$

مساوات د مربعتکمیلولو له لارې په فورم $(z+a)^2 - b^2$ راوړل کیږي

$$y^2 + 4y - 1 = (y^2 + 4y + 4) - 4 - 1$$
$$= (y-4)^2 - (\sqrt{5})^2 \quad \Rightarrow \int \frac{dz}{(z+a)^2 - b^2}$$

دا لاندې اینتیګرال د مخه اوبی شوی دی ( پا داوبو نښه)

$$\int [(1/(z+a)^2 - b^2]\, dz$$

$$\frac{dy}{dx} = y^2 + 4y - 1$$

$$\frac{dy}{dx} = (y+2)^2 - (\sqrt{5})^2$$

$$\frac{dy}{(y+2)^2 - (\sqrt{5})^2} = dx$$

$$\int \frac{dy}{(y+2)^2 - (\sqrt{5})^2} = \int dx$$

$$\frac{1}{2\sqrt{5}} \ln\left|\frac{y+2-\sqrt{5}}{y+2+\sqrt{5}}\right| + c_1 = x + c_2$$

$$\ln\left|\frac{y+2-\sqrt{5}}{y+2+\sqrt{5}}\right| = 2\sqrt{5}\cdot x + 2\sqrt{5}(c_2 - c_1)$$

$$\ln z = a \Longleftrightarrow z = e^a$$

$$\Rightarrow \frac{y+2-\sqrt{5}}{y+2+\sqrt{5}} = e^{2\sqrt{5}\cdot x} \cdot e^{2\sqrt{5}\cdot(c_2 - c_1)}$$

پردو $e^{2\sqrt{5}\cdot(c_2 - c_1)} = c$ . بیا د $y + 2 + \sqrt{5}$ سره ضلیږي، وروسی هغه غړی، چی $y$ لري د مساوات یوې لور ته ځانله کیږي او $y$ له نوکانو راوخي، دا د $y$ په لور اوبې – یا حل کیږي، چی په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه ټولیز اوبی لاس ته راځي .

$$y=\frac{(2+\sqrt{5})\cdot c\cdot e^{2\sqrt{5}\cdot x}+\sqrt{5}-2}{1-c\cdot e^{2\sqrt{5}\cdot x}}$$

$$\Rightarrow f=\left\langle x,-\frac{(2+\sqrt{5})\cdot c\cdot e^{2\sqrt{5}\cdot x}+\sqrt{5}-2}{1-c\cdot e^{2\sqrt{5}\cdot x}}\right\rangle$$

بیلګه ۴ : $y' = y$

د $x = 0$ لپاره $y = e$ دی

غږی $g(x)$ او $dy$ د مساوات په یوه لور بیلیږي. په اخر کې دواړه خواوې اینتیګرال کیږي.

$$dy / dx = y$$
$$dy / y = dx$$
$$\int \frac{dy}{y} = \int (1 / y)\, dy = \int dx$$

$$\ln|y| + c_1 = x + c_2$$
$$\ln|y| = x + (c_2 - c_1)\ ,\quad c_2 - c_1 = c$$
$$\ln|y| = x + c$$
$$y = e^{x+c}$$

د y په لور اوبیونه ټولیز اوبی f ورکوي

$$\Rightarrow f = \langle x \longrightarrow e^{x+c} \rangle$$

ثابته c د شرایطو $x_1 = 0$ او $y_1 = e$ څخه لاس ته راځي.

$$c = \ln|y| - x$$
$$= \ln e - 0 = 1$$

دلت $c = 1$ او $f_1$ ټوټه ئیزه اوبیونه ده.

$$\Rightarrow f_1 = \langle x \longrightarrow e^{x+1} \rangle$$

بیلګه ۵ . $x.\sqrt{y} = x - 1$

ورزیات شرایط : د $x_1 = 0$ لپاره دي $y_1 = 10$ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفرنځیالمساوات د پسې اړول کیږي او مات یا کسر په برخه ماتونو توته کیږي.
د دې برخمساواتو اینتیګرالونی وروسته د دفرنځیالمساوات ټولیز اوبیونه یا حل لاس ته راځي

پردو $c_1 + c_2 + c_3 = c$

اوبی

$$x \cdot \sqrt{\frac{dy}{dx}} = x - 1$$

$$\frac{dy}{dx} = \frac{(x-1)^2}{x^2}$$

$$dy = \left(\frac{x^2}{x^2} - \frac{2x}{x^2} + \frac{1}{x^2}\right) \cdot dx$$

$$\int dy = \int dx - 2 \cdot \int \frac{1}{x}\, dx + \int \frac{1}{x^2}\, dx$$

$$y = x + c_1 - 2 \cdot \ln|x| + c_2 - \frac{1}{x} + c_3$$

$$y = x - 2 \cdot \ln|x| - \frac{1}{x} + c$$

$$\Rightarrow f = \left\langle x \cdot \to x - 2 \cdot \ln|x| - \frac{1}{x} + c \right\rangle$$

وروسې د اینتیګرال ثابته C د شرایطو $x = 2 ; y = 10$ ځای په ځاي کولو څخه شمیرل کیږي.

$$c = y_1 - x_1 + 2.\ln|x_1| + 1/x_1$$

پردو $x_1 = 2,\ y_1 = 10$

$$= 10 - 2 + 2.\ \ln 2 + 1/2 = 9,8863$$

بیا د c ارزښت په ټولیز اوبی کی ځاي په ځاي کیږي او په دې توګه پارتیکوالار اوبی لاس ته راځی.

$$\Rightarrow f_1 = \left\langle x \cdot \to x - 2 \cdot \ln|x| - \frac{1}{x} + 9,8863 \right\rangle$$

بیلګه ۶ : $y'^2 = 1 - x^2$

شرایط: د $x = 1$ لپاره $y = 0$ دی

د دفرنځیالمساواتو رینبه(جذر) وځي یا نیول کیږي او د y په لور اوبی کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$(dy / dx)^2 = 1 - x^2$$
$$dy / dx = \sqrt{1 - x^2}$$
$$dy = \sqrt{1 - x^2} . dx$$

په لاندې کی راغلی اینتیګرال $\int \sqrt{1 - x^2}\ dx$ د مخه اوبی شوی دی. دا اینتیګریشن مو بیا ټولیز اوبیونی ته بیایي.

$$\int dy = \int \sqrt{1 - x^2}\, dx$$
$$y = \frac{x}{2}\sqrt{1 - x^2} + \frac{1}{2}\,\text{Arcsin}\, x + c$$
$$\Rightarrow f = \left\langle x \cdot - \frac{x}{2}\sqrt{1 - x^2} + \frac{1}{2}\,\text{Arcsin}\, x + c \right\rangle$$

د c ثابته د شرایط $x_1 = 1$ او $y_1$ د اینیوولو له لارې شمیرل کیږي.
که $c = -\frac{\pi}{4}$ په f کی کیږدو، نو $f_1$ پارتیکولار اوبیونه لاس ته راځي

$$c = y_1 - \frac{x_1}{2}\sqrt{1 - x_1^2} - \frac{1}{2}\,\text{Arcsin}\, x_1 \blacktriangleright x_1 = 1,\quad y_1 = 0$$
$$c = 0 - 0 - \frac{1}{2}\cdot\frac{\pi}{2}$$
$$c = -\frac{\pi}{4}$$
$$\Rightarrow f_1 = \left\langle x \cdot - \frac{x}{2}\sqrt{1 - x^2} + \frac{1}{2}\,\text{Arcsin}\, x - \frac{\pi}{4} \right\rangle$$

بیلګه ۷ : $y' = y.[x / (x^2+1)]$

اوس $dy , y$ او $f(x) = x / (x^2 + 1)$ , $dx$ د دفرنخیالمساوات په دواړو خواو کی ځانله کیږي.
د مساوات دواړه خواوی اینتیګرال کیږي او بیا د y پسی اوبي یا حل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$dy / dx = y.[x /( x^2+1)]$$

$$dy / y = [x / [x^2 + 1) ] .dx$$

$$\int dy / y = \int [x / (x^2+1)] .dx = \int \frac{x}{x^2+1} dx$$

$$\ln|y| = (1/ 2) \ln(x^2+1) + C$$

د اینتیگرالثابتو $c_1$ او $c_2$ یوځایونه و $c_2 - c_1 = \ln|c|$ ته هدفمند دي

$$\ln|y| = \ln \sqrt{x^2+1} + (c_2 - c_1),\ c_2 - c_1 = \ln|c|$$

$$\ln|y| = \sqrt{x^2+1} + \ln|c|$$

$$\ln|y| = \ln|\sqrt{x^2+1}\ .\ c|$$

$$y = \sqrt{x^2+1}\ .\ c$$

او لاندې f تولیز اوبیفنکشن دی

$$=> \quad f = < x \longrightarrow c\sqrt{x^2+1} >$$

بیلګه ۸: $y' = [(x^2 - 4) / x^2].\quad 1 - y^2$

ور زیات شرطونه: د $x_1 = 1$ لپاره $y_1 = 1$ دی

او $g(x)$, $dy$ او $f(x)$, $dx$ د مساوات په دواړو لورو خانله کیږي

$$\frac{dy}{dx} = \frac{(x^2-4)\sqrt{1-y^2}}{x^2}$$

$$\frac{dy}{\sqrt{1-y^2}} = \frac{(x^2-4)\cdot dx}{x^2}$$

$$\int \frac{dy}{\sqrt{1-y^2}} = \int dx - 4 \cdot \int \frac{dx}{x^2}$$

د مساوات دواړه خواوې اینتیکرالیږي، د دواړو اینتیکریشنثابتو $c_1$

او $c_2$ , $c_4$ زیاتون د سره c مساوي لیکل کیږي: $c_2 - c_1 - c_4 = c$

$$\text{Arcsin}\, y + c_1 = x + c_2 - 4[ - ( 1 / x ) + c_3 ]$$

$$\text{Arcy} = [( x^2 + 4 ) / x] + c$$

$$y = \sin [( (x^2 + 4 ) / x ) + c ]$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې په اخر کی ټولیز اوبی f لاس ته راځي

$$\Rightarrow f = \left\langle x \cdot - \sin\left(\frac{x^2+4}{x} + c\right)\right\rangle$$

ثابته c د ورکړ شوو شرایطو څخه پیداکیږي، داسی ، چی $x_1$ او $y_1$ د فنکشن-مساوات په ټولیز اوبی کی ځای په ځاي شي.

په دې توګه ورپسی ټوټه اوبیونه $f_1$ لاس ته راځي

$$c = \text{Arcsin } y_1 - \frac{x_1^2+4}{x_1} \blacktriangleright x_1 = 1, \quad y_1 = 1$$

$$= \text{Arcsin } 1 - \frac{1^2+4}{1}$$

$$= \frac{\pi}{2} - 5$$

$$\Rightarrow f_1 = \left\langle x \cdot - \sin\left(\frac{x^2+4}{x} + \frac{\pi}{2} - 5\right)\right\rangle$$

بیلګه ۹ : $x^2.y^2 + y^2 + x.y^3.y' = x.y.y'$

دفرنځیالمساوات د dx سره ځلیږي اوپه $x.y^2$ ویشلکیږي.

غړي د x , dx سره په یوه خوا او د y , dy سره په بله خواځانله کیږي. انتیګریشن د اوبی په څیر یو ایمپلیځیت د فنکشن مساوات ورکوي، کوم ، چی ایمپلیځیت نه شی انځوریدلی وروسته پردو $c_4 + c_3 - c_2 - c_1 = c$

$$x^3 \cdot y^2 + y^2 + x \cdot y^3 \cdot \frac{dy}{dx} - x \cdot y \cdot \frac{dy}{dx} = 0$$

$$x^3 \cdot y^2 \cdot dx + y^2 \cdot dx + x \cdot y^3 \cdot dy - x \cdot y \cdot dy = 0$$

$$x^2 \cdot dx + \frac{dx}{x} + y \cdot dy - \frac{dy}{y} = 0$$

$$x^2 \cdot dx + \frac{dx}{x} = \frac{dy}{y} - y \cdot dy$$

$$\int x^2\, dx + \int \frac{dx}{x} = \int \frac{dy}{y} - \int y\, dy$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\frac{x^3}{3} + c_1 + \ln|x| + c_2 = \ln|y| + c_3 - \frac{y^2}{2} + c_4$$

$$\frac{x^3}{3} + \frac{y^2}{2} + \ln\left|\frac{x}{y}\right| + c = 0$$

بیلگه ۱۰ : dx - dy = / dy / y ) + [(4.dx)/ (4 + x)]

د x , dx او y , dy خانلونی وروسته د دفرنځیالمساوات دواړه خواوې اینتیګرالیږي د اینتیګریشنثابتي، کیدی شی سره رایوځاي شي، اوبی اکسپلیځیت نه شي انخوریدی

$$dx - \frac{4 \cdot dx}{4+x} = \frac{dy}{y} + dy$$

$$\int dx - 4\int \frac{dx}{4+x} = \int \frac{dy}{y} + \int dy$$

$$x + c_1 - 4 \cdot \ln|4+x| + c_2 = \ln|y| + c_3 + y + c_4$$

$$\blacktriangleright\ c_4 + c_3 - c_2 - c_1 = c$$

$$x - 4\ln|4+x| = \ln|y| + y + c$$

## ۱ . ۲ . ۲ دیفرنځیالمساواتد هوموجینو اووښتونکو یا واریابلو سره

د هوموجینو اووښتونکو سره دیفرنځیالمساوات په هر غړي کی یو دیفرنځیال dx یا dy لري.

د واریابلوx او y د اکسپونتتو یا په جګګیونو زیاتون د مساواتو په هر غړي کی برابر لوي دی.

دیفرنځیالمساوات د هوموجینواووښتونکو سره دSubstitution سبستیچیوشن یا ( د ) په ځاي اینښوونی یا بدلون له لارې خان اوبیوني یا حل ته پرېږدي، په کوم کي چی y = x.z ځاي په ځاي کیږي، او د کوم سره چی بیا z د x فنکشن دی.

(د ) په ځاي اینښوونه مو یوه مساوات ته بیايي، چی اوښتونکی کي بیلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبستيچيوشن : په ورکړ شوي مساوات $y = x.z$ او په ورته يا همدې

توګه $y^2 = x^2.z^2$ سبستيچيوشن کو.کله چې ترم $y = x.z$ د خلقاعدې سره

دفرنځياليري، نو د $dy$ لپاره بيا $z.dx + x.dz$ ږدو ،

دا نوي منځ ته راغلي مساوات د خانله شوو اوښتونو يا واريابلو سره د د

فرنځيالمساوات په بڼه راوړل کيږي.په کوم کې چې د $x^2$ سره خانله شي او

د $x$ , $dx$ همداسې $z$ , $dz$ سره غږي د بڼيبدلون له لارې خانله شي

$$x^2 \quad + y^2 \quad + x \cdot y \cdot y' = 0$$

$$\frac{x^2 \cdot dx}{dx} + \frac{y^2 \cdot dx}{dx} + \frac{x \cdot y \cdot dy}{dx} = 0$$

$$\underbrace{x^2 \cdot dx}_{n=2} + \underbrace{y^2 \cdot dx}_{n=2} + \underbrace{x \cdot y \cdot dy}_{n=2} = 0$$

Man setzt $y = x \cdot z \blacktriangleright z = f(x)$

$$\Rightarrow \frac{dy}{dx} = 1 \cdot z + x \cdot \frac{dz}{dx}$$

$$dy = z \cdot dx + x \cdot dz$$

بيلګه : $x^2.dx + y^2.dx + xydy = 0$

اوبې يا حل : اوبې په څلورو پلونو کې پلي کوو

١ – په مساوات کې بدلون منځ راولو يا سبستيچيوشن کوو

$y = x.z \quad \Rightarrow \quad y^2 = x^2.z^2$

$dy = z.dx + x.dz$

$x^2.dx + x^2.z^2.dx + xxz(z.dx + x.dz) = 0$

$x^2.dx + x^2z^2.dx + x^3z.dz = 0$

$dx(1 + 2z^2) = -x.z.dz$

$dx / x = -(z.dz)/(1+2z^2)$

دا نوی رامنځ ته شوی مساوات د په دواړه لوري خانلۀ شوو اووښتونکو د

ديفرنځيالمساوات په بڼه راوړل کيږي.

٣ – د مساوات دواړه خواوې اينتيګرال کيږي.

د اينتيګرال $\int x.dx / (a^2 + x^2) = (½) \ln(a^2 + x^2)$ اوبې راته د مخه روښان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\int \frac{dx}{x} = -\int \frac{z}{1+2z^2}\,dz$$

$$\int \frac{dx}{x} = -\frac{1}{2}\int \frac{z}{\frac{1}{2}+z^2}\,dz$$

$$\ln|x| + c_1 = -\frac{1}{4}\ln\left(\frac{1}{2}+z^2\right) + c_2 \blacktriangleright z^2 = \frac{y^2}{x^2}$$

انیتیکرایشنشابتي په یوه لور راوړل کیږي او لویه $z^2$ بیرته د $y^2/x^2$ سره بدلیږي. د لوګاریتم د زیاتون څخه بیا د یو خل(ضرب) لوګاریتم جوړیږي او د لوګاریتممساوات د اکسپوننشلمساوات په څیر لیکل کیږي.

بیا x ریښې ته راوړل کیږي او مساوار په ۴ توان کیږي.

د $c = e^{4(c \;-\; c\;)}$ لپاره لیکیل کیږي، اوس د y ساده شمیرل کیدی شي.

هغه f چې وروسته لاس ته راځي د دفرنځیالمساوات تولیز فنکشن اوبې دی

$$\ln|x| + \ln\sqrt[4]{\frac{1}{2}+\frac{y^2}{x^2}} = c_2 - c_1$$

$$\ln\left|x\cdot\sqrt[4]{\frac{0,5\cdot x^2+y^2}{x^2}}\right| = c_2 - c_1$$

$$x\cdot\sqrt[4]{\frac{0,5\cdot x^2+y^2}{x^2}} = e^{c_2-c_1}$$

$$\sqrt[4]{0,5\cdot x^4 + x^2\cdot y^2} = e^{c_2-c_1}$$

$$0,5\cdot x^4 + x^2\cdot y^2 = e^{4(c_2-c_1)} \blacktriangleright e^{4(c_2-c_1)} = c$$

$$0,5\cdot x^4 + x^2\cdot y^2 = c$$

$$x^2\cdot y^2 = c - 0,5x^4$$

$$y^2 = \frac{1}{x^2}\left(c - 0,5x^4\right)$$

$$y = \frac{1}{x}\sqrt{c - 0,5x^4}$$

$$\Rightarrow f = \left\langle x \cdot -\frac{1}{x}\sqrt{c-0,5x^4}\right\rangle$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګی :

لومړی) $x + y = y'.x$

دلته $y = x.z$ سبستیچیوشن کیږي او د په توانقاعدې له مخی $dy / dx$ جوړوو او ړدو $dy = z.dx + x.dz$ .اوس د بنیبدلو له لارې $x , dx$ او $dz$ د مساواتو په دواړولورو خانله کیږي.

$$x + y = \frac{dy}{dx} \cdot x \quad \blacktriangleright y = x \cdot z$$

$$\Rightarrow \frac{dy}{dx} = 1 \cdot z + x \cdot \frac{dz}{dx}$$

$$dy = z \cdot dx + x \cdot dz$$

$$x + x \cdot z = \frac{x}{dx} \cdot (z \cdot dx + x \cdot dz)$$

$$x \cdot dx + x \cdot z \cdot dx = x \cdot z \cdot dx + x^2 \cdot dz$$

د اووبنتونکو له بیلولو وروسته مساوات په دواړو لورو اینتیکرالیږي.د اینتیکر-یشنشابتي رایوخاي کیږي.

دا لاس ته راغلی f د دفرنځیالمساوات ټولیز اوبی دی.

$$x \cdot dx = x^2 \cdot dz$$

$$\int \frac{dx}{x} = \int dz$$

$$\ln|x| + c_1 = z + c_2 \quad \blacktriangleright c_1 - c_2 = c$$

$$\ln|x| + c = z \quad \blacktriangleright z = \frac{y}{x}$$

$$y = x(\ln|x| + c)$$

$$\Rightarrow f = \langle x \mapsto x(\ln|x| + c) \rangle$$

بیلګه ۲ : $(x^2 + y^2).dx = xy.dx$

سبستیچیوشن یا د اووبنتونکو بدلون $y = x.z$ او $y^2 = x^2 . z^2$ د خلقاعدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره dy / dx جوړوو او پردو dy = z.dx + x.dz .

د مساوات بڼه بدلون سره x,dx همداسی z,dz په دواړو لورو خانله کوو.

د اوښتونکو، داوړو لورو ته له بېلولو وروسته مساوات اینتیګرالیږي.

$$(x^2+y^2)\,dx = x\cdot y\cdot dy$$

$$x^2\cdot dx + y^2\cdot dx = x\cdot y\cdot dy$$

$$\blacktriangleright\ y = x\cdot z \Rightarrow y^2 = x^2\cdot z^2$$

$$\Rightarrow dy = z\cdot dx + x\cdot dz$$

$$x^2\cdot dx + x^2\cdot z^2\cdot dx = x\cdot x\cdot z(z\cdot dx + x\cdot dz)$$

$$dx + z^2\cdot dx = z^2\cdot dx + z\cdot x\cdot dz$$

$$\frac{dx}{x} = z\cdot dz$$

$$\int\frac{dx}{x} = \int z\,dz$$

$$\ln|x| + c_1 = \frac{z^2}{2} + c_2$$

بیاد $z^2$ په ځاي $y^2/x^2$ ځاي په ځاي کیږي، د $2(c_2 - c_1)$ لپاره c پردو.

لاس ته راغلی f د دفرنځیالمساوات ټولیز اوڅ دی.

$$2\cdot\ln|x| + 2c_1 - 2c_2 = z^2 \quad \blacktriangleright\ z^2 = \frac{y^2}{x^2}$$

$$2c_1 - 2c_2 = c$$

$$2\cdot\ln|x| + c = \frac{y^2}{x^2}$$

$$y^2 = x^2(2\cdot\ln|x| + c)$$

$$y = x\sqrt{2\cdot\ln|x| + c}$$

$$\Rightarrow f = \underline{\langle x \mapsto x\sqrt{2\cdot\ln|x| + c}\rangle}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګه ۳ $y' = (y/x) - (y^2 / x^2)$

سبستیچیوشن(د ) په ځای ایښول

$y = x \cdot z$ او $y^2 = x^2 \cdot z^2$ د خلقاعدې

سره $dy / dx$ جوړوو او ړدو

$dy = z.dx + x.dz$

د مساوات د ښي بدلون له لارې $x,dx$

همداسې $z, dz$ په دواړو لوروخانله کوو

$$\frac{dy}{dx} = \frac{y}{x} - \frac{y^2}{x^2}$$

$$\blacktriangleright \quad y = x \cdot z \Rightarrow y^2 = x^2 \cdot z^2$$

$$\Rightarrow dy = z \cdot dx + x \cdot dz$$

$$\frac{z \cdot dx + x \cdot dz}{dx} = \frac{x \cdot z}{x} - \frac{x^2 \cdot z^2}{x^2}$$

$$z + \frac{x \cdot dz}{dx} = z - z^2$$

$$-\frac{dz}{z^2} = \frac{dx}{x}$$

د اووښتونکو له بیلولو وروسته

مساوات ایتیګرالوو.

$$-\int \frac{dz}{z^2} = \int \frac{dx}{x}$$

د $z$ لپاره بیرته $y/x$ ږدو او

ایتیګریشنثابتی رایوځاي کوو.

$$\frac{1}{z} + c_1 = \ln|x| + c_2 \quad \blacktriangleright z = \frac{y}{x}$$

$$c_2 - c_1 = c$$

$$\frac{x}{y} = \ln|x| + c$$

د مساوات د $y$ پسې اوبی مو

ټولیز اوبې $f$ ته بیايي.

$$y = \frac{x}{\ln|x| + c}$$

$$\Rightarrow f = \left\langle x \cdot - \frac{x}{\ln|x| + c} \right\rangle$$

بیلګه ۴ : $y' \cdot (y - x) = y$

(د ) په ځاي ږدو $y = x.z$ ،

د خلقانون سره $dy / dx$ جوړوو

مساوات بڼیبدلو سره $x.dx$ همداسی

$z,dz$ په دواړو لورو خانله کوو.

$$dy(y - x) = y \cdot dx$$

$$\blacktriangleright \quad y = x \cdot z$$

$$\Rightarrow dy = z \cdot dx + x \cdot dz$$

$$(z \cdot dx + x \cdot dz)(x \cdot z - x) = x \cdot z \cdot dx$$

$$x \cdot z^2 \cdot dx - x \cdot z \cdot dx + x^2 \cdot z \cdot dz - x^2 \cdot dz - x \cdot z \cdot dx = 0$$

$$z^2 \cdot dx - z \cdot dx + x \cdot z \cdot dz - x \cdot dz - z \cdot dx = 0$$

$$dx(z^2 - 2z) + x \cdot dz(z - 1) = 0$$

د اووښتونو خانلونی وروسته

دواړه خواوباینتیګرالوو.

نو باور لري

$\int [ f'(x) / f(x) ].dx = \ln[f(x)] + C$

$$\int \frac{dx}{x} + \int \frac{z - 1}{z^2 - 2z} dz = 0$$

$$\int \frac{dx}{x} + \frac{1}{2} \int \frac{2z - 2}{z^2 - 2z} dz = 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\ln|x| + c_1 + \frac{1}{2}\ln|z^2 - 2z| + c_2 = 0$$

$$2 \cdot \ln|x| + \ln|z^2 - 2z| = 2(-c_1 - c_2)$$

$$\ln x^2 + \ln|z^2 - 2z| = -2(c_1 + c_2)$$

(د ) په ځایونه y = x. z

$$\blacktriangleright\ y = x \cdot z$$

د z = y / x اینسوونی سره په

$$\Rightarrow z = \frac{y}{x}$$

ځتې راګرځول کیږي.

$$\ln\left|x^2\left(\frac{y^2}{x^2} - 2\frac{y}{x}\right)\right| = -2(c_1 + c_2)$$

$$\ln|y^2 - 2xy| = -2(c_1 + c_2)$$

وریسی اوبیونه مو فنکش-
برابرون ته بیایي، کوم چی یواځي
ایمپلیلیخیت انځوریدلی شي.

$$y^2 - 2xy = e^{-2(c_1+c_2)}$$

$$\blacktriangleright e^{-2(c_1+c_2)} = c$$

$$\underline{y^2 - 2xy = c}$$

## ۱ . ۲ . ۳ لاینې دیفرنځیال مساوات

د لمړي نظم لاینې دیفرنځیالمساوات
لاندې ، هغه مساوات پوهیږو، چی y
او 'y په ۱ - ام ګراد کی ، دا په دې
مانا چی لاینې وي، ولرې.دا شرطونه
داوبښتونکي x لپاره باور نه لري.
دلته F(x) او f(x) د x فنکشنونه
یا بلواك دي او یا ثابتی.

$$allgemein: \frac{dy}{dx} + y \cdot f(x) = F(x)$$

**Beispiele:**

- $y' - y \cdot \frac{2}{x} = \frac{x+1}{x}$
- $y' \cdot x = x \cdot \sin x - y$
- $y' + x^2 = x^4 \cdot y$

د لاینې دفرنځیالمساوات اوبیونی لپاره کیدی شي، چی بیلابیلی همغه ارزښتیز
متودونه وکارول شي.

### د برنولي ( Bernoulli ) متود له مخی اوبیونه

$$y' - y \cdot \frac{2}{x} = \frac{x+1}{x}$$

۱ - سبستیچیوشنوو y = u(x).v(x) له
دي ځخه دخلقاعدي له لارې لاس ته راځي

$$\blacktriangleright y = u(x) \cdot v(x)$$

$$\Rightarrow y' = u(x)\frac{dv}{dx} + v(x)\frac{du}{dx}$$

د y او ' y لپاره ارزښتونه په دفرنځیا-
لمساوات کې کینول کیږي

$$\Rightarrow u(x)\frac{dv}{dx} + v(x)\frac{du}{dx} - u(x) \cdot v(x)\frac{2}{x} = \frac{x+1}{x}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ – لوېي u(x) همداسی v(x) له نوکانو راوځي

$$u(x)\left[\frac{dv}{dx}-\frac{2}{x}v(x)\right]+v(x)\frac{du}{dx}=\frac{x+1}{x}$$

۳ – د u(x) همداسی v(x) لپاره د ځنګشمیرنی سره یو ترم غوښتل کیږي، کوم چې نوکترم [dv / dx -(2/x)v(x) ] او له دې سره د u خلووني یا فاکتور صفر کیدی شي .

$$\frac{dv}{dx}-\frac{2}{x}v(x)=0$$

$$\frac{dv}{v(x)}=\frac{2\,dx}{x}$$

$$\int\frac{dv}{v(x)}=2\cdot\int\frac{dx}{x}$$

$$\ln|v(x)|+c_1=2\cdot\ln|x|+c_2$$

$$\ln|v(x)|=\ln x^2+c_2-c_1$$

دا د $v(x) = x^2$ لپاره حالت دی، د نیونی $c_2 - c_1 = 0$ لاندې

$$v(x)=x^2\cdot e^{c_2-c_1}\blacktriangleright c_2-c_1=0$$

$$v(x)=x^2$$

د v(x) لپاره راپیدا ارزښت، دا په دې مانا چې $x^2$ په مساوات کې کېښوول شي.له v(x) سره چې ځل [u(x)[dv/dx- 2v(x) / x په صفر برابر شي یو پاتی غړی راکوي، له کوم سره چې du همداسی x,dx په دواړو خواو ځانله کیدی شي.

$$u(x)\left[\frac{dv}{dx}-\frac{2}{x}v(x)\right]+v(x)\frac{du}{dx}=\frac{x+1}{x}\blacktriangleright v(x)=x^2$$

$$u(x)\cdot\quad 0\quad +x^2\frac{du}{dx}=\frac{x+1}{x}$$

$$\frac{du}{dx}=\frac{x+1}{x^3}$$

۴ – له پاتی غړي څخه u(x) د اینتیګرال کولو له لارې تاکل کدی شي.

$$\int du=\int\frac{x+1}{x^3}\,dx$$

$$\int du=\int\frac{1}{x^2}\,dx+\int\frac{1}{x^3}\,dx$$

$$u(x)=-\frac{1}{x}+c_1-\frac{1}{2x^2}+c_2\quad\blacktriangleright c_1+c_2=c$$

$$=-\frac{1}{x}-\frac{1}{2x^2}+c$$

۵ – په وتلمساوات y = u(x).v(x) کې راپیدا ارزښتونه کیښوول کیږي :

u(x) = -(1/x)-(½x²)+c;v(x) =x²

$$y=\quad u(x)\quad\cdot v(x)$$

$$=\left(-\frac{1}{x}-\frac{1}{2x^2}+c\right)\cdot x^2$$

$$=-x-\frac{1}{2}+cx^2;\ c\in\mathbb{R}$$

$$\Rightarrow f=\left\langle x\mapsto cx^2-x-\frac{1}{2}\,\middle|\,c\in\mathbb{R}\right\rangle$$

لاس ته راوړنه یې د ورکړ شوي اینتیګر المساوات ټولیز اوبیونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لاګرانژ Lagrange متود له لارې اوبیونه

همدا بیلګه به اوس ددوم یعنی لاګرانژ له متود وشمیرل شي.

۱ - خاي په خاي کوو F(x) = 0 او راپاتی پاتی مساوات $y' - y.f(x) = 0$ د ورسره بلدمتود د اوبښتونکو بیلولو له لارې اوبی کوو. د اینتیګریشن ثابطی پهخاي، چی ګټور دي لوګاریتم ټاکو، چی دا لوګاریتم بیا له منځه ځي. $c_2 - c_1 = \ln|c|$ ثابته C په لنډ شوي هوموجین مساوات $y' - y.f(x)$ کی ثابته نه ده، بلکه د x یو فنکشن دی.

۲ - لاس ته راوړی مساوات د y لپاره د ځل یا ضرب قاعدې له لارې دیفرنځیالیږي.

۳ - د y او 'y دواړه ټوټه اوبیونی په سرچینز مساوات کی خاي په خاي کیږي او مساوات و dC(x) / dx پسی اوبی کیږي.

۴ - د اینتیګرالولو لا لارې C(x) لاس ته راوړ لکیږي.

۵ - په مساوات $y = x^2.C(x)$ کې د C(x) لپاره ارزښت کیښول کیږي او مساوات ساده کیږي

$$y' - y\cdot\frac{2}{x} = \frac{x+1}{x}$$

$$y' - y\cdot f(x) = F(x) \blacktriangleright F(x) = 0$$

$$\Rightarrow \frac{dy}{dx} - y\cdot\frac{2}{x} = 0$$

$$\frac{dy}{y} = \frac{2\,dx}{x}$$

$$\int\frac{dy}{y} = 2\cdot\int\frac{dx}{x}$$

$$\ln|y| + c_1 = 2\cdot\ln|x| + c_2$$

$$\ln|y| = \ln x^2 + c_2 - c_1 \blacktriangleright c_2 - c_1 = \ln|c|$$

$$\ln|y| = \ln x^2 + \ln|c|$$

$$\ln|y| = \ln|x^2\cdot c|$$

$$y = x^2 \cdot c \Rightarrow c = c(x)$$

$$= u(x)\cdot v(x)$$

$$u(x) = x^2 \Rightarrow u'(x) = 2x$$

$$v(x) = c(x) \Rightarrow v'(x) = \frac{dc(x)}{dx}$$

$$\Rightarrow y' = 2x\cdot c(x) + x^2\frac{dc(x)}{dx}$$

$$y' - y\cdot\frac{2}{x} = \frac{x+1}{x}$$

$$2x\cdot c(x) + x^2\frac{dc(x)}{dx} - x^2\cdot c(x)\cdot\frac{2}{x} = \frac{x+1}{x}$$

$$\Rightarrow \frac{dc(x)}{dx} = \frac{1}{x^2} + \frac{1}{x^3} + \frac{2}{x}\cdot c(x) - \frac{2}{x}\cdot c(x)$$

$$\int dc(x) = \int\frac{dx}{x^2} + \int\frac{dx}{x^3}$$

$$c(x) + k_1 = -\frac{1}{x} + k_2 - \frac{1}{2x^2} + k_3 \blacktriangleright k_2 + k_3 - k_1 = k$$

$$c(x) = -\frac{1}{x} - \frac{1}{2x^2} + k;\ k \in \mathbb{R}$$

$$y = x^2\cdot c(x)$$

$$= x^2\cdot\left(-\frac{1}{x} - \frac{1}{2x^2} + k\right)$$

دا نتیجه هم همغه برابره ټولیزه اوبیونه ده، لکه د مخه تیر د لاګرانژ اوبیونی متود.

$$y = -x - \frac{1}{2} + k \cdot x^2;\ k \in \mathbb{R}$$

$$\Rightarrow f = \left\langle x \mapsto -kx^2 - x - \frac{1}{2} \,\middle|\, k \in \mathbb{R} \right\rangle$$

بیلګه: د ۱ -ام نظم مساوت y' - ay = x د لانګرانژ او برنولي متودو له لارې اوبی کړی!

الف - (د ) پۀ ځاي اېښوونی ( سبستیچیوشن ) y = u.v له لارې او مناسب رابیلیدنی ته dy / dx=u.(dv/dx)+ v(du/dx)

$$y' - ay = x \blacktriangleright y = u(x) \cdot v(x)$$

$$u(x)\frac{\mathrm{d}v}{\mathrm{d}x} + v(x)\frac{\mathrm{d}u}{\mathrm{d}x} - a \cdot u(x) \cdot v(x) = x$$

$$u(x)\left[\frac{\mathrm{d}v}{\mathrm{d}x} - a \cdot v(x)\right] + v(x)\,\frac{\mathrm{d}u}{\mathrm{d}x} = x$$

ب - u(x) له نوکانو راوځي

پ- په نوکانو کی ترم باید صفر شي، چی د u اود نوکانو ځل صفر شي.د اینتیګرالولو سره لویه v(x) ټاکل کیږي.

$$\frac{\mathrm{d}v}{\mathrm{d}x} - a \cdot v(x) = 0$$

$$\int \frac{\mathrm{d}v}{v(x)} = a \cdot \int \mathrm{d}x$$

$$\ln|v(x)| + c_1 = ax + c_2$$

$$\ln|v(x)| = ax + c_2 - c_1$$

$$v(x) = \mathrm{e}^{ax + c_2 - c_1}$$

$$= \mathrm{e}^{ax} \cdot \mathrm{e}^{c_2 - c_1} \blacktriangleright c_2 - c_1 = 0$$

$$= \mathrm{e}^{ax}$$

ت - د v(x) لپاره دا راپیدا ترم ځاي په ځاي کیږي او د اینتیګرال کیدو له لارې u لاس ته راځي.
د اینتیګرال اوبی د ټوټه اینتیګرال له لارې پیدا کیږي.

$$u(x) \cdot [0] + \mathrm{e}^{ax} \cdot \frac{\mathrm{d}u}{\mathrm{d}x} = x$$

$$\int \mathrm{d}u = \int \frac{x}{\mathrm{e}^{ax}}\,\mathrm{d}x$$

$$u(x) = -\frac{ax + 1}{a^2 \cdot \mathrm{e}^{ax}} + c$$

ت - لاس ته راوړی ارزښت په مساوات y = u.v کی کیښوول کیږي.
لاس ته راوړنه د برنولي پسي ټولیز اوبی دی

$$y = u(x) \cdot v(x) = \left(-\frac{ax + 1}{a^2 \cdot \mathrm{e}^{ax}} + c\right) \cdot \mathrm{e}^{ax}$$

$$y = -\frac{x}{a} - \frac{1}{a^2} + c \cdot \mathrm{e}^{ax}$$

$$\Rightarrow f = \left\langle x \mapsto c \cdot \mathrm{e}^{ax} - \frac{x}{a} - \frac{1}{a^2} \right\rangle$$



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف – د لاگرانژ پسی بنی لور
په صفر مساوي گیښول کیږي
او dx همداسی dy, y په دواړو
لورو ځانله کیږي.
راپاتی مساوات dy / y = a.dx
اینتیگرالیږي، د y پسی بڼه–
بدلیږي او $c_2 - c_1 = \ln|c|$ ږدو.

$$y' - a\cdot y = x \blacktriangleright x = 0$$

$$\Rightarrow \frac{dy}{dx} - a\cdot y = 0$$

$$\frac{dy}{y} = a\cdot dx$$

$$\int \frac{dy}{y} = a\cdot \int dx$$

$$\ln|y| + c_1 = ax + c_2 \quad \blacktriangleright c_2 - c_1 = \ln|c(x)|$$

$$\ln|y| = ax + \ln|c(x)|$$

$$y = e^{ax}\cdot e^{\ln|c(x)|}$$

$$= e^{ax}\cdot c(x) = u(x)\cdot v(x)$$

ب – د y لپاره برابرون د ځل–
قاعدې له لارې دیفرنځیالیږي.

$$y' = e^{ax}\cdot \frac{dc(x)}{dx} + c(x)\cdot a\cdot e^{ax}$$

پ – د y او 'y لپاره ټوټه اوبیوني
په پیلبرابرون کی کیښول کیږي.
داسی ودیز برابرون د dc(x)
پسی اوبی کیږي له دې سره
a.e^ax . C(x) له منځه ځي

$$y' \qquad -a\cdot y \qquad = x$$

$$e^{ax}\cdot \frac{dc(x)}{dx} + c(x)\cdot a\cdot e^{ax} - a\cdot e^{ax}\cdot c(x) = x$$

$$e^{ax}\cdot \frac{dc(x)}{dx} = x$$

ت ۰ ارزښت C(x) د اینتیگر–
الولو له لارې لاس ته راځي

$$\int dc(x) = \int \frac{x}{e^{ax}}\, dx$$

$$c(x) + k_1 = -\frac{ax+1}{a^2\cdot e^{ax}} + k_2 \blacktriangleright k_2 - k_1 = k$$

$$c(x) = -\frac{ax+1}{a^2\cdot e^{ax}} + k;\ k\in\mathbb{R}$$

ټ – لاس ته راوړلی ارزښتونه
په مساوت
y = u(x) v(x) e^ax .C(x)
کی ږدو
نتیجه د لاگرانژ پسی تولیز اوبی دی.
دا د برنولي د نتیجی سره سرخوري.

$$y = e^{ax}\cdot c(x)$$

$$= e^{ax}\cdot\left(-\frac{ax+1}{a^2\cdot e^{ax}} + k\right)$$

$$= -\frac{x}{a} - \frac{1}{a^2} + k\cdot e^{ax};\ k\in\mathbb{R}$$

$$\Rightarrow f = \left\langle x \mapsto k\cdot e^{ax} - \frac{x}{a} - \frac{1}{a^2} \middle| k\in\mathbb{R}\right\rangle$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بیلګه: مساوات y' + y/x = sinx  د برنولي  متود سره اوبی کړی.**

(د ) په ځایکو y = u(x).v(x) اوy او y' په دفرنځیالبرابرون کی ږدو

$$y' + \frac{y}{x} = \sin x$$

$$\blacktriangleright y = u(x)\cdot v(x)$$

$$\Rightarrow y' = u(x)\,\frac{\mathrm{d}v}{\mathrm{d}x} + v(x)\,\frac{\mathrm{d}u}{\mathrm{d}x}$$

$$u(x)\,\frac{\mathrm{d}v}{\mathrm{d}x} + v(x)\,\frac{\mathrm{d}u}{\mathrm{d}x} + \frac{u(x)\cdot v(x)}{x} = \sin x$$

$$u(x)\cdot\left(\frac{\mathrm{d}v}{\mathrm{d}x} + \frac{v(x)}{x}\right) + v(x)\,\frac{\mathrm{d}u}{\mathrm{d}x} = \sin x$$

نوکترم په 0 سره برابر ږدو اوv شمیری.

$$\frac{\mathrm{d}v}{\mathrm{d}x} + \frac{v(x)}{x} = 0 \Rightarrow v(x)\,\frac{\mathrm{d}u}{\mathrm{d}x} = \sin x$$

$$\int \frac{\mathrm{d}v}{v(x)} = -\int \frac{\mathrm{d}x}{x}$$

د پاتیمساوات څخه راپاتی دی
v(x)(du/dx) = sin x

$$\ln|v(x)| + c_1 = -\ln|x| + c_2 \quad \blacktriangleright c_2 - c_1 = \ln|c|$$

$$\ln|v(x)| = \ln|x^{-1}| + \ln|c|$$

د c = 0 له امله لاس ته راځي:
v(x) = 1 / x

$$v(x) = \frac{1}{x}\cdot c^{c} \blacktriangleright c = 0$$

$$\Rightarrow v(x) = \frac{1}{x}$$

$$v(x)\,\frac{\mathrm{d}u}{\mathrm{d}x} = \sin x$$

له پاتبرابرون څخه u(x) د اینتیګرالولوله لارې تاکل کیږي

$$\frac{1}{x}\cdot\frac{\mathrm{d}u}{\mathrm{d}x} = \sin x$$

$$\int \mathrm{d}u = \int x\cdot\sin x\,\mathrm{d}x$$

$$u(x) + k_1 = \sin x - x\cdot\cos x + k_2 \blacktriangleright k_2 - k_1 = k$$

$$u(x) = \sin x - x\cdot\cos x + k;\ k\in\mathbb{R}$$

په (x). y = u(x ) کی لاس ته راوړل شوي ارزښتونه د u اوv لپاره ځاي په ځاي کړی.
لاس ته راوړنه د برنولي پسی د ورکړ شوي مساوات ټولیز اوبیدی.

$$y = u(x)\cdot v(x)$$

$$= (\sin x - x\cdot\cos x + k)\cdot\frac{1}{x}$$

$$= \frac{\sin x}{x} - \cos x + \frac{k}{x}$$

$$\Rightarrow f = \left\langle x \mapsto \frac{\sin x}{x} - \cos x + \frac{k}{x} \,\middle|\, k\in\mathbb{R} \right\rangle$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېلګه : مساوات $y' + y = e^{-x}$ د لاګرانژ د متود له لارې اوبې کړې.

ړدو $F(x) = e^{-x} = 0$ او پاتې مساوات د اووښتونو د بېلولو له لارې اوبې کوو.

$$y' + y = e^{-x} \blacktriangleright e^{-x} = 0$$
$$\frac{dy}{dx} + y = 0$$
$$\int \frac{dy}{y} = -\int dx$$

د اینتیګریشنثابتو په څیر کېښوول کیږي $c - c = \ln|c(x)|$ او $y$ تاکو د خلقاعدې سره $y'$ شمیرل کیږي

$$\ln|y| + c_1 = -x + c_2 \blacktriangleright c_2 - c_1 = \ln|c(x)|$$
$$\ln|y| = -x + \ln|c(x)|$$
$$y = e^{-x} \cdot c(x)$$
$$= u(x) \cdot v(x)$$
$$y' = \frac{dc(x)}{dx} \cdot e^{-x} - c(x) \cdot e^{-x}$$

د $y$ او $y'$ لپاره برخ اوبیونی په پیلمساوات کی کېښوول کیږي او $c(x) . e^{-x}$ او $e^{-x}$ لرې کیږي. د اینتیګریشن له لارې $c(x)$ تاکل کیږي.

$$\begin{matrix} y' & + & y & = e^{-x} \end{matrix}$$
$$\frac{dc(x)}{dx} \cdot e^{-x} - c(x) \cdot e^{-x} + e^{-x} \cdot c(x) = e^{-x}$$
$$\int dc(x) = \int dx$$
$$c(x) + k_1 = x + k_2 \blacktriangleright k_2 - k_1 = k$$
$$c(x) = x + k;\ k \in \mathbb{R}$$

په مساوات $y = e^{-x} . (x)$ کې $c(x)$ کېښوول کیږي. نتیجه د لاګرانژ پسی تولیز اوبیونه ده

$$y = e^{-x} \cdot c(x) \blacktriangleright c(x) = x + k$$
$$= e^{-x}(x + k);\ k \in \mathbb{R}$$
$$\Rightarrow f = \langle x \cdot - e^{-x}(x + k) | k \in \mathbb{R} \rangle$$

## تمرینونه

### ۱ . ۲ د لمړینظم دفرنځیالمساوات

#### ۱ . ۲ . ۱ د فرنځیالمساوات د بیلوشوو اوښتونو سره

د لاندې دفرنځیالمساوات لپاره تولیزبن اوبیونیورکړې

1. $y' = \frac{y}{2a}$
2. $y' = axy$
3. $y' - 1 = x^2 + x^4$
4. $y' - x^3 = y - x^3$
5. $\frac{y'}{2x} = y^2$
6. $y' = \frac{y^2}{x^2}$

7. $2xy^2 = y'$

8. $y' = \frac{b^2 x}{a^2 y}$

9. $y' = \frac{2}{\sqrt{a^2 + x^2}}$

10. $x^2 + 2x = y'$

11. $xy' = y \cdot \ln y$

